مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۴/۱۰/۱۸

# پردي خوبونه

د نسکور آسمان په زړه کې
ونې تولې
پاس د وريځو په لمنو کې شنې کيږي
يوه لار هم
سمندره پورې نه ده غځيدلې
تولې لارې په هندارو کې ډوبيږي
او کبان تول د سرو زرو په قفس کې الوتل کا
او مرغان دخاورو تل کې
تل زرغون خوبونه ګوري
او لمر هم
د بې پايه تکو شنو شپو په بامونو
خپله سپينه مسکا اوبې
ساعتونه
په خپل ځان باندې تاويږي
عقربې يې پيرۍ وشوې کوم توپان ترې تښتولې
او زمان هم
د باران په لمده غيږ ه کې ويده دی
سترګې تولې
له کړکيو تيرو تيرو زمانو لارو ته ځير دي
خو
لارې تولې لکه خو ډلې آسونه
د سبا په لورې ځغلې
کوم څوک شته چې زموږ د پاره
ددې سيورو په وطن کې منتظر وي ؟
يا که موږ د بدن غرې
په پرديو روياګانو او خوبونو کې ورک کړې

يادونه : دغه شعرمې د سور رياليزم په سبک ليکلی فکرکوم تراوسه په پښتوکې چا په دې سبک شاعری نه ده کړې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ